# په مردان د باچا خان مارچ

پروفېسر جهانزېب نیاز

هېر به مې نهٔ شي د کال ۳۹ء نه واخله د کال ۴۲ء زمانه وه، په ټوله دنیا د دوېم جنګ عظیم لړې خورې وې یو اړخ ته جرمن او بل اړخ ته جاپان ملکونه په مخه راختي وو او ټوله دنیا اړې ګړې وه. د دې اور نه هندوستان هم بچ نهٔ شو او انګرېزي سامراج د هندوستان په جنګ کښې د شاملېدو اعلان وکړو. په دغه دوران کښې د پښتونخوا په شمول د کانګرس په ۱۱ صوبو کښې حکومتونه وو.

کانګرس پېرنګي ته ووې چې تا هندوستان ولې زمونږ د مشورې نه بغېر په جنګ کښې وردیکه کړو. زمونږ خو عدم تشدد اصول دې مونږ خو جنګونه نهٔ کوو. په پېرنګي دا خبره بده ولګېده او جواب ئې دا ؤ چې دا زما ملک دے زهٔ چې څهٔ کول غواړم هغه به کوم. کانګرس فوراً د مجلس عامله اجلاس راوبللو او فېصله ئې وکړه چې زمونږه نه زمونږ د ارادې تپوس نشته نو بیا مونږ په تشو کرسو څهٔ له ناست یو او د ټولو وزارتونو نه ئې استعفې ګانې ورکړې او د ازادۍ اعلان ئې وکړو.

تا په خپل غرض د صبب سلام پرې نهٔ ښود
چې په لته تخت وهي وزیران مونږ یو

او د استعفې ګانو سره سم ئې د سول نافرمانۍ اعلان وکړو. دې اعلان سره حکومت د کانګرس د سر لیډران ټول ګرفتار کړل خو زمونږ صوبه کښې ئې ګرفتارۍ ونهٔ کړې خو دلته خدائي خدمتګارو یو عجیبه تحریک شروع کړو. باچا خان چیف کمانډر وټاکلے شو او د ټولو ضلعو سالارانو ته هدایت وکړے شو چې رضاکار تیار کړي او په کچرو چپاوونه شروع کړي. دا چپاوونه جنګ جګړه نهٔ وه بلکې خدائي خدمتګار به باوردې په جوپو کښې تلل او پېښور، مردان، کوهاټ، بنو او ډېرو کښې به ئې سرکاري نوکرانو ته خواست کوو چې د پېرنګي نوکرۍ پرېږدئ راځئ مونږه سره مل شئ چې پېرنګے د ملک نه وباسو نو هم تاسو به بیا په دې کرسو کښېنو لکه دا به ئې وئیل:



مونږه ازاد یو تهٔ راته ګورې
مونږ سره مل شه زمونږه ورور ئې
هندوستانے شه هندوستان ستا دے
ځان ئې مالیار کړه ګلستان ستا دے
سبا به بیا تهٔ په دې کرسۍ سور ئې

مونږه سره مل شه زمونږه ورور ئې
د عدالتونو په دروازو کښې به ورته ځملاستل چې دننه عدالتونو ته مهٔ ځئ خو چا به پرې سائیکل، چا موټر سائیکل او چا موټر راوخېژو او لاسونه پښې به ئې ورله مات کړل او پولیس به هم ښهٔ کوتره کړل. ایمبولنس به نهٔ ؤ خدائي خدمتګارو به زخمیان په شا راوړل او سرکاري هسپتالونه ئې ورته ټول بند کړي وو چې دا ستاسو دپاره نهٔ دي.

زهٔ خو نورو ځایونو ته نهٔ وم تللے خو پېښور کښې وم او چونکې د زخمیانو مرهم پټې به ډاکټر صاحب کوله (ډاکټر خانصاحب د باچا خان مشر ورور او زما خپل ماما) نو ما به ورسره هغه تخته په غاړه کښې اچولې ګرځوله چې مختلف داروګان به پکښې پراتهٔ وو او په یکه توت کښې د جمیعت العلماء مرکز ؤ هغه د دې خلقو د اوسېدو دپاره ؤ.

په هغه ورځو کښې مرزا سکندر چې بیا د پاکستان صدر شو، د پېښور ډپټي کمشنر ؤ. چونکې د خدائي خدمتګارانو چائې ډوډۍ به هم په دغه مرکز کښې پخېدله، یوه ورځ د دهٔ په صلاح ورله چا د چایو په دېګونو کښې جمال کوټه واچوله او د ټولو حاضرو زلمو او بوډاګانو کېږې خرابې شوې خو چونکې په هره تپه کښې به د خدائي خدمتګارو جتې تیارې ولاړې وې فوراً د پکټنګ دپاره نوې ډلې راورسېدې او پړ جاري پاتې شو.

یوه ورځ زمونږ د کلي رځړو یو بوډا خدائي خدمتګار چې حجاب کاکا ئې نوم ؤ، د سکندر مرزا د دفتر په دروازه ئې ډیوټي وه چې مرزا راغے دهٔ ورته منت زاري وکړل چې دفتر ته مهٔ ځه هغه د پېرنګیانو پټتې چرته منع کېدهٔ، دا بوډا ورته په دروازه کښې ځملاستو، مرزا پرې موټر وروخېژوو، د بوډا حجاب کاکا دوه پُښتۍ ماتې شوې هم دغه ظالم بیا زمونږ د وطن صدر ؤ. پولیس پکښې یو د لړمي سېد اکبر خدائي خدمتګار دومره وواههٔ چې هغهٔ هم هغلته په حجره کښې ساه ورکړه او شهید شو.

دا خو د خدائي خدمتګارو حال ؤ، راځئ چې اوس د سرتور ملنګ باچا خان نه ځان خبر کړو. کله چې په هندوستان کښې د لیډرانو ګرفتارۍ وشوې نو په پښتونخوا کښې یوکس هم نهٔ ؤ ګرفتار کړے شوے نو د باچا خان دا خیال راغے چې په مونږه کښې بد اعتمادي پیدا کول غواړي ځکه مونږه او په خاصه توګه ما یعنې باچا خان نهٔ ګرفتاروي.

په دغه وخت حکومت یو آرډر جاري کړو چې باچا خان مردان ته نهٔ شي تلے. هغلته هم ربړ روان ؤ. د مردان او صوابۍ خدائي خدمتګار ټولې کچرۍ په مخه اخستې وې. هغو خدائي خدمتګارو دا خواهش وکړو چې باچا خان دې لږ مردان ته راشي چې زمونږ کار وګوري. د دغو چپاوونو مشران یو میا شاکرالله د ګوجر ګړۍ ؤ او بل عبدالعزیز خان کاکا د زېدې ؤ.



باچا خان چې دا واورېدل چې پېرنګي مردان ته زما په تلو پابندي ولګوله نو فوراً د پېښور په چوک یادګار کښې مازیګر یوه لویه جلسه وشوه چې په زرګونو خلقو پکښې شرکت وکړو او په دغه جلسه کښې باچا خان اعلان وکړو چې زۀ بله ورځ مردان ته ځم، پېرنګے په خپل ملک کښې ما د ګرځېدو نه نۀ شي منع کولے.

سبا له بیا د چارسدې د مېلې په مېدان کښې جلسه وشوه او بابا پکښې پنځوس کسان غوره کړل چې دوي به ماسره ځي. ډېرو خلقو ورسره د تلو خواهش ظاهر کړو خو د بابا په یوه وېنا وه. په دغو کښې یو زۀ هم وم په شا ئې وټپولم، وئیل ئې دا ځل نۀ او بیا به یو ځل ستا وار هم راشي او د دغې واقعې نه لس ورځې پس زۀ هم په کلي کښې ګرفتار شوم.

باچا خان د دغه ځائے نه پېدل سره د پنځوسو کسانو روان شو ،نۀ تُوره نۀ ډال، نۀ زغره نۀ ټوپک ،نۀ تماچه ټول تش لاس د ظالم پېرنګي مقابلې ته روان شو. په لاره ئې په هر ځائے کښې تقریرونه وکړل، بلا خلق به ورته راغونډ وو ،شپه ئې په منګاکې وکړه او سبا له دسحر د مانځۀ نه پس دا د مجاهدو ټولي تش لاس مردان ته روان شو. کچه غرمه د مردان په پُوله یو زیارت دے مېروېس بابا ورته وائي هغلته چې ورسېدل دلته ورته د پېرنګي پټنتان مشینونه، ټوپکې او ډنډې په لاس ولاړ وو، هغه پنځوسو خدائي خدمتګارانو ترې ګېره واچوله او دا ټولے په وړاندې روان شو او پولیس پرې راباندې کړې دغه پنځوس کسان ئې داسې وټکول چې د چا سر مات، د چا لاس مات، د چا پوښتۍ ماتې، په سخا نالو کښې ئې ګوزار کړل خو باچا خان د مردان په حدودو ورداخل شو خو دې نظم وضبط ته وګورئ چې هغه خوا هم د حده زیات خدائي خدمتګار یعنې سرخپوش او سپین پوش ولاړ وو او دې خوا هم دغه حال ؤ، خو د یو بنده دا قدرت نۀ ؤ چې یو قدم وروړاندې شي،ځکه چې د خپل محبوب لیډر دا حکم ؤ چې بغېر د دغې ټولي نه به بل څوک ماله نزدې نۀ راځي خو یو پولیس کپتان ؤ خوش دل نوم ئې ؤ، هغۀ په باچا خان ښۀ زړۀ تش کړو او دومره ګوزارونه ئې پرې وکړل چې درې پوښتۍ ئې ورله ماتې کړې او چې کوم وخت ئې په موټر کښې واچولو نو بیا ئې ورته ستغې سپورې وئیل هم شروع کړل. باچا خان ورته وئیل چې نورې ردې بدې مۀ وایه، بس دے تنخوا دې حلاله کړه نور رانه څۀ غواړې او د دغه ځائے نه ئې د هرې پور جېلخانې ته ورسولو، په دې موقع شادمحمد مېږې وئیلي وو چې:

بیا په موټر کښې د خوش دل ظالم کپتان رټل
هېر به مې نۀ شي د غازي فخر افغان وهل

او بیا چې کله د دې واقعې کلیزه وه نو هم دغه شاعر دا لاندیني شعرونه وئیلي وو:

تامنع کوو چې د مردان ضلعې ته مۀ اوړه
اخر ئې پېرنګیه په نېزه کښې نخښه یوړه
دا فخر افغان دے ورشه اېټم بم دې راوړه
دا هغه بهادر دے چې په خدائے پاک ئې اعتبار دے
بیا رامخامخ شه باچا خان جنګ ته تیار دے

دا خو یوه واقعه وه، داسې څو څو ځله بابا مقابلې کړې دي لکه چې وائي:

نن درته کومه د غازي ملنګ د جنګ قیصې
د دې رښتیني مسلمان د نام و ننګ قیصې
یا

هغه پښتون چې پېرنګي په تانېدار نۀ قبلوو
د بي اې پاس به ئې په تحصیل کښې تحصیلدار نۀقبلوو
د ملک نواب به ئې په پوځ کښې عهدېدار نۀ قبلوو
خان او ملک به ئې د خپلو پښو پېزار نۀ قبلوو
فخر افغان غازي ترې پوځي کمانډر جوړ کړو
هغه پښتون ۀ باچا خان ترې ګورنر جوړ کړو

فخر افغان د عدم تشدد دا روح په پښتون قام کښې داسې ورداخل کړو چې د ټول هندوستان نه ئې برے یوړو. د کال ۴۲ ء د تحریک په حقله باچا خان په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې لیکي چې ګاندي جي ته مې وئیل چې زما قام خو په دې جنګ کښې مثالي پابندي د عدم تشدد وکړه او ستا قام خو ټول تحریک بدنام کړو. د ټیلیفون تارونه ئې وشلول، د رېل پاټلۍ ئې ووېستلې، ملکي جائدادونو ته ئې بې شانه نقصان ورسوو، زما قام خو دا بد کار هډو کړے نۀ دے او ټول جنګ ئې د عدم تشدد د اصولو لاندې کړے دے. ګاندي جي ورته جواب کښې ووې چې عدم تشدد د تکړه قام کار دے، زما قام وېرېدونکے دے، دوي عدم تشدد نۀ شي کولے.

د باچا خان د مردان د مارچ په حقله غني خان څۀ ښکلې نقشه راښکلې ده. وائي چې:

جنګ له دے منصور روان توپ او نۀ تفنګ لري
نۀ د تورو پړق لري نۀ د زغرو شرنګ لري
راشه اے خوشحال بابا اے خالده وګوره
پاڅه علي مرتضٰي دا تماشه ووینه
جنګ له دے منصور روان توپ او نۀ تفنګ لري
نۀ د تورو پړق لري نۀ د زغرو شرنګ لري

زور د دښمن نۀ ویني دا د مستانه ۀ خان
دا د پښتنو ملنګ څۀ بادشاهي رنګ لري
اے د پښتو بچو دا مېدان مو هېر نۀ شي
سپین سر ئې د وینو ډک هغه خان مو هېر نۀ شي
پروت ۀ دلته خاورو کښې دا مکان مو هېر نۀ شي
پاڅۍ تنګ پرې وکړئ خدائے ګوډېر په تاسو تنګ لري
جنګ له دے منصور روان توپ او نۀ تفنګ لري
نه د تورو پړق لري نۀ د زغرو شرنګ لري

جهانزېب نیاز

فخر افغانه چې تا څۀ وئیل رښتیا شو هغه
چې د دروغو مجنونان وو ښۀ رسوا شو هغه
دوي غوړمنګي دي یو وېنا په دوي اثر نۀ کوي
خو شکر شکر چې د ټول قام د خندا شو هغه

❁❁❁

تا به وئیل سېلاب به راشي دوي به نۀ منله
سېلاب خو راغے خو د وینو مونږه وړي په بله
اوس دوي په خپلو کښې هم ستا خبرې پټې کوي
هم هغه ستا خبرې کاندي اوس دوي یو تربله

❁❁❁

بابا کۀ ستا عظمت زۀ هېر کړمه انسان به نۀ یم
بیا به دروغ وي نشانچي ستا د نشان به نۀ یم
زما په زړۀ کښې ستا اصولو ځان له ځائے جوړ کړے
کۀ دا اصول مې چرې هېر کړل مسلمان به نۀ یم

❁❁❁

ستا وېنا مو نۀ منله باچاخانه
مونږ لامدۀ وچو کښې سوزو په نیران
مونږ خو داسې ازادي غوښتلې نۀ وه
ټول عمري به یو اخته په وير د ځان